دافغانستان دخلکو آزادي بخښونکی سازمان (ساما)

۱۲ مارچ ۲۰۱۸

# ښځې دپلارواکۍ په زنځیر ښکیل

**شبحی ست در سراسر تاریخ تا کنـون**
**تعقیب  سایه وار تو را می کند هنــوز**
**از تخت حریت تو را می کشد به  زیر**
**ترغیب  بنده وار تو را می کند هـنوز**

د«ښځې ورځ» دلومړني نمانځنې څخه نږدې یوسل او شل کلونه تیریږي. خو پرښځو باندی د«مدني ټولنې» او دپانګوالۍ نظام دتېګمارۍ اوغولوونکې پاملرنې اوهمدا ډول د«ټولنیز انقلاب» په سرته رسیدلو سره سره، اوس هم د«پلارواکۍ» ناتار پایښت لري. او په تیره بیا په وروسته پاتې هیوادونو کې ښځې لاپسې تر تېرې او تاوتریخوالي لاندې ویرژلی ژوند کوي. زمونږ په ګران هیواد کې، ښځې پرته دهیڅ  ډول اجورته دسړیو دغلامانو په څیر دسحر څخه ترماښامه دربړونو او کړاوونو په زغملو سره په کار بوختې دي، او دناخوالو اور ټېلو سره مخامخ دي. نو دهغوی دلومړنیوغوښتنو او دحقونو دراستنولو لپاره لا تر اوسه هم ډیر لاملونه تر سترګو کیږي چې هرومرو باید ددې ورځې نمانځنه وشي. او دنمانځنی په ترڅ کې، له دې تاریخي ورځې څخه په ګټه اخستلو سره د«پلارواکۍ» دناتار څخه دښځو رښتینی او تل پاتې خلاصون په نښه او وښودل شي.

دښخو دنړیوالې ورځې په نوم دمارچ اتمې ورځې ټاکل، په ۱۸۵۷ کال دنیویارک په ښار کې دټوکرانو کارخانې دښځینه مزدورانو دغوښتنو پورې ـ چې دتنخواګانو دزیاتوالي، دکار د ګړیو لنډون او دکار دشرایطو دښه والي لپاره یې اعتصاب کړي ول ـ اړه لري. یو پنځوس کاله وروسته (۱۹۰۸) دنوموړي ښار دکتان فابریکې ښځینه کارګرانو دپخوانیو کارګرانو دمبارزو تر اغیزـ د همغو غوښتنو دلاسته راوړلو لپاره ـ په دغه ورځ په اعتصاب لاس پورې کړل. ددغې فابریکې څښتن نورو سیمو ته داعتصاب دغځیدلو دمخنیوي په تکل، دغه ښځې یې په نوموړي کارخانه کې ښکیل کړل. پر دغه مهال کارخانې اور واخیست او ۱۲۹ ښځینه کارګرې وسوځیدل. دښځو په دوهمه بین الاقوامی سوسیالیستی کنفرانس ـ په کوپنهاګ ـ کې چې په هغه کې سل ګډون کوونکي دنړۍ داوه لسو هیوادونو استاځي ګډون کړي ول؛ په ۱۹۱۰ کال داګست میاشتې په ۲۷ دمارچ اتمه د «ښځې ورځ» په نوم ـ دځو اړخیزو تبعیضونو پر وړاندی دهغوی دحقونو څخه دپلوۍ په موخه ـ وټاکل شوه.

دبشري ژوند په لومړی پیر کې، پر یوه انسان باندې دبل انسان د ناتار شتون لاتر اوسه نه دی پیژندل شوی. نو ځکه دا اندتوګه چې ګواکې پر ښځو باندې ناتار اوپلارواکي د«بشر پنځ» کې اخښل شوی، دپوهې سره سمون نه خوري او دمنلو

وړ نه دی. همدا ډول ښځو ته «دوهم جنس» ویل، دپوړیزو ټولنو کلتوري انګازه ده. په رښتینې توګه دکار پنځیز ویش په پایله کې (لږ او ډیر پخپل سر دسړیو او ښځو تر منځ) او په لومړنیو ونډه ایزو ټولنو کې دټولنیز کار لومړنی ویش له امله (دتولید دنویو بڼو او دشتمنیو ځانګړو زیرمه کولو په پایله) داسې شرایط برابر شول چې دټولنې یوه برخه وکړای شو چې دتولید دوسایلو او اوزارو کنترول پخپل لاس کې ونیسي او دټولنیز ژوند په ټولو برخو کې واکمني تر لاسه کړي. دغه چار ټولنیزو اړیکو ته یې بنسټیز بدلون ورکړ. نو له هغه مهاله لا تر اوسه دښځو او سړیو ترمنځ اړیکې دناتارګرۍ او ښکیلتیا بڼه غوره کړه. دبشر پرمخ تلونکې تاریخ ته په پاملرنې سره او په پوړیو باندې دټولنې دویش له لومړي مهاله لا تر اوسه دنورو ناتارونو تر څنګ، ښځې دسړیو واکمني د«سربارۍ» په څیر زغملی دی.

زمونږ په ګران هیواد کې د«ویدي» پیر دپای ته رسیدو او دسترو کوشانیانو دواکمنۍ څخه وروسته، زرګونه کلونه دي چې زمونږ دټولنې ښځې تیټ دریځ لري. نو له دې لامله په اقتصادي، سیاسي، کلتوري او پوهنیزو آزمیښتونو کې ونډه نه لري او ګوښې ته شړلې شوې دي. دغه چارـ دسړیو په پرتله ـ دهغو دفکر اوعقل دودې او پوهنیزو لاروچارو دراخپلولو په لیار کې خنډ ګرځیدلی دی. او د«ناقص العقل» انګیرنه یې دمنلو وړ ګرځولی دی. جوته ده چې ټولنیز ژوند دانساني شعور ټاکونکی دی؛ پوهنه او تجربه دکړنو په بهیر کې ترلاسه کیږي، نو په ډیره خواشینۍ سره زمونږ دټولنې ښځې له دې پلوه بې برخې دي.

په لویدیځه نړۍ کې پر فئودالیسم باندې دپانګه والۍ بریالیتوب څخه وروسته، دپانګه والو د«آزادۍ، برابرۍ او ورورولۍ» شعار او په تېره بیا د «پلارواکۍ» دولکې څخه دښځو خلاصون هسې تشه ډنډوره دپانګه والو په ګټه سر ته ورسید. ښځو ته دتش په نامه آزادي ورکول، ونشو کړای چې دهغوی دمرییتوب لاملونه له منځه یوسي.

په لویدیځ کې دفمینیسم الواک (چې له آره دښځو په هکله یو پانګه وال الواک دی)پلارواکۍ او پوړیزو توپیرونو ته ـ چې په ټولنه کې دښځو تیټ دریځ سر چینه ده ـ په نه پاملرنه، یواځې سړي دهغو دټیټ ژوند لامل ګڼي. ښکاره ده چې دښځو او سړیو تر منځ ټولنیز توپیرونه ذاتي او دبیولوژیک او فزیولوژیک توپیرونو زیږنده نه دي. خو دفمینستانو په اند سړي له پیله، دښځو بیولوژیکي بې ځواکۍ څخه په ګټه اخیستلو سره هغوی تر خپل ناتار او ولکې لاندی راوستی دي. دفمینستانو یوه بله ډله «جنسي آزادي» چې دښځو او پیغلو ـ دواده پرته ـ دجنسي اړیکو دنیولو په مانا ده، دښځو بشپړه آزادي انګیري. بله ډله بیا په ټولیزه توګه ښځې دسړیو په وړاندې ودروي اود«ښځو آزادي دښځو په لاس»متاک شعار یی اوچت کړی دی. خو دیوې ټولنې دآزادۍ پرتله دښځو دآزادۍ له مخې کیږي چې داقتصادي ښکیلتیا او دهغو ټولو اړیکو دله منځه وړلو پورې اړوندي لري چې ښځې یی بې واکه کړي دي. نو دیوې ټولنې دسړیو آزادي دښځو دآزادۍ پورې تړلی دی. دا ځکه چې«ترڅو چې په نړۍ کې یوه ښځه تر ناتار لاندی وي، هیڅوک په رښتینې توګه ندی آزاد شوی».

پر ښځو باندې ظلم او ناتار سمدستي او په یو مخیزه توګه نشو له منځه وړلای. ان په هغه ټولنه کې چې «ټولنیز انقلاب» سرته رسیږي، باید په دې تمه ونه اوسو چې ټولنیز ـ اقتصادي توپیرونه به کوروټ له منځه یوړل شي. په دې توګه دښځو او سړیو تر منځ دژوند سمون به هیڅکله په دې پړاو کې بشپړ نه شي. داځکه چې: اجوره (دبورژوازۍ حق)، دفکري اولاسي کارونوترمنځ توپیرونه اود کلیو اوښارونو ترمنځ توپیرونه به شتون ولري. ترډیرې مودې پورې دولت، ټولنیزې پوړۍ او پوړییزټکرونه به پایښت ولري. نو دټولنیزبشپړ سمون لپاره (په تېره بیا دښځو اوسړیو ترمنځ) په کارده چې ددې ټولو توپیرونودتري تم کیدلوغوښتنه دې وشي....

زمونږ په ګران هیواد افغانستان کې ـ که د« مشروطیت غوښتونکو» دلنډ پیرڅخه پسې تیر شو۔ په دوو پړاوونو کې، ښځو ته دآزادۍ ورکولو درواغجنې دوړې پورته شوي دي: یودروسیې امپریالیسم ته ښکیل د«خلق دموکراتیک دولت» پړاو اوبل د«بن دلومړي کنفرانس» په پایله، امریکې امپریالیسم او ناتو پورې ښکیل مونتاژ شوی دولت په پړاو کې. دروسیې لاسپوڅی دولت «اصلاحات» چې غولوونکی بڼه یې درلود او زمونږ دخلکو وسله وال پاڅون د له منځه وړلو او دخپل واکمنې دړنګیدلو څخه د ژغورنې په موخه اعلان کړل. خو دغه هلې ځلې ونشو کړای چې دګوډاګي رژیم پر وړاندې دوګړو کرکه له منځه یوسي. « اوومه شمیره فرمان چې دمنځنیو پیړیو داړیکو څخه دښځو د ژغورنې ادعا درلود، دغه ستره ټولنیزه ستونزه چې دټولنیز کار دلومړنی ویش او دبشر دپرمخ یون تاریخ او داقتصادي، ټولنیز او مذهبي خواوو لرونکی دی او په پلارواکۍ ټولنه کې ژورې جرړې لري او په نورو ټولنو کې دپرمختللي پانګه وال او سوسیالیستي فرماسیونونو سره سره، لا تر اوسه هم ستر بریالیتوبونه او لاسته راوړنې نه لري. ددې پر ځای چې دښځو نوښتونو، په ټولنیز تولید کې دهغوی ونډې او دپوړیزې پوهې لوړاوي ته پاملرنه وشي....دمهر له منځه وړل او دماشومانو دواده څخه مخنیوی چې دپنځوسم لسیز څخه وروسته دزوړپالو دولتونو دخولې خبرې وې دټوکو او کرکو سره مخامخ شو.» (رهبر)

دامریکا امپریالیسم زمونږ دهیواد پوځې ښکیل په ترڅ کې، دطالبانو دمتعصب حکومت له تنګسې او زور زیاتي څخه دښځو خلاصون ادعا، دښځو دحقونو درواغجنه تابیا او دتش په نامه دموکراسۍ «بخښنِ» دښکیلاکګرۍ ډنډوري په سر کې ټیکاو ورکړ. نو ځکه دخپلو موخو دلاسته راوړلو لپاره ـ د «مدني ټولنې» تر نامه ـ دمؤسسو او "ان جی او" ګانو په جوړولو لاس پورې کړ، تر څو ددې پلمو تر شا خپلې کرغېړنې موخې پټ کړي، ددې مؤسسو بې ننګه چلوونکي داساسي قانون د دوه ویشتمې مادې په استناد چې ګواکې «... د افغانستان اوسیدونکي ـ نارینه او ښځې ـ دقانون په وړاندې دمساوي حقونو او وجیبو لرونکي دي»، دافغاني ښځو دغولولو لپاره دکرکې وړټګي برګي څخه کار اخلي. ځکه چې دهمدې قانون دریمې مادې او ورسره اړوند فرعي قوانینو ته په پاملرنې سره، اودقانون دلفظي مجوز تضاد دپلارواکۍ اندتوګي زړو دودونو سره به داګروهه راته جوته شي چې: دوه ویشتمه ماده دمساوات ښکارندوی نه دی. دقوانینو پایښت دټولنیزو توپیرونو پر شتون باندې دلالت کوي. قوانین یا دتوپیرونو دخوندي کولو لپاره دي (دزوړپالی قانون) او یا دهغو دجرړو دشکولو لپاره (انقلابي قانون). که چېرې رښتینی مساوات شتون ولري، نو بیا قانون ته اړتیا نه لیدل کیږي.... نو له دې امله اساسی قانون دامپریالیستانو او دهغوی ترولکې لاندې دولت په ګټه لیکل شوی دی. زیارکښ وګړي او په تېره بیا تر ناتار لاندې ښځې، نشي کولای چې ددې قانون څخه ګټه واخلي.

اوس چې زمونږ ګران هیواد د راتپل شوې جګړې داور په لمبو کې سوزي، ښځې دډېرو ستونزو اوکړاوونو پر وړاندې ټیکاو لري. دطالبانو او داعشیانو او... ډلې ټپلې په مړژوانده هلوځلو سره غواړي چې ـ له تاریخي پلوه دختمیدو په حال ـ دفئوډالی نظام پایښت ولري. دوی پر ښځو باندې دتاوتریخوالي ډول ډول بڼې روا ګڼي. اود«صحرایي» محکمو دپریکړو له لیارې دعیني شاهدانو پرته، بې ګناه ښځې وژني. هغوی ښځې په ډله ایزه توګه دوینځې په څېرله ځان سره وړي (دننګرهار دشینوارو په سیمه کې دښځو ډله ایز تښتول یې څرګنده بیلګه ده). طالبان او داعشیان ان د«اسلامي شریعت» پر خلاف، ښځې «اجباري ودونو» ته مجبوروي.

لاسپوڅی او ګوډاګي حکومت او دهغوی باداران په درواغجن زړه سواندۍ سره، ددې ویرژلیو پېښو څخه یواځې او زاري تبلیغاتي ګټه اخلي. دا ځکه چې د ښکیل دولت په ترکیب کې دبنسټ پالو(اخوانیانو) ګډون پردې ناتارونو باندې ـ ددوی دګډې ګروهې تر آغیز۔ دمنلو مُهر لګول کیږي. ځان وژنه، ځان سېزل، دښځو پروړاندې فزیکي تاوتریخوالی،

اختطاف او همدا ډول جنسي زورونه، ډله ایز جنسی تېری، پر ماشومانو باندی (ان دمسجدونو دملایانو له خوا) جنسي تېری او دانځوریزو رسنیو له لوري ددې ځواشینوونکو پیښو بربنډول، « پر ښځو دتاوتریخوالی دمخنیوي قانون»؟ دتوشیح څخه دپارلمان سرغړونه اود دولت انفعالي دریځ هغه بربنډې پیښې دي چې پورتنۍ ادعا جوتولای شي.

دښځو رښتینی آزادي یواځې ددوی پخپلو نوښتونو، په ټولنیز تولید کې دهغو په ونډه اخستلو. دهغو دپوهې لوړولو او دښځو او سړیو په ګډ هڅه او هاند او هغې ټولنې ته درسیدلو وروسته چې په کښې دانسان زبیښناک له منځه تللی وي، لاسته راتلای شي او بس.

مړ دې وي د پلارواکې نظام!

ورک دې وي پر ښځو دتاوتریخوالی پلویان!

ځواکمن دې وي دزیارکښو ښځو مبارزې!

یا مرگ یا آزادي!

**دافغانستان دخلکو آزادي بخښونکی سازمان (ساما)**

۰۸ مارچ ۲۰۱۸